| د ستراتيژۍ وضعیت | نسخه | وضعیت یا حالت | د نافذیدو نېټه | د راتلوونکي بیاکتني نېټه |
|---|---|---|---|---|
| | ۲۰۱۸ | تائید دی | د ۲۰۱۸ کال د جون ۶ مه | د ۲۰۱۹ کال د جنوري میاشت |

**د سرپناه کلستر جوړښت**

| | | |
|---|---|---|
| **ځواب ورکوونکی** | په ۲۰۱۸ ـ ۲۰۱۲ کلونو کې د افغانستان لپاره د بیړنۍ سرپناه ~~کلستر~~ (Emergency shelter) او غیر خوارکي توکیو (NFIs) د کلستر ستراتیژۍ | |
| **د کلستر لارښود بنسټ** | د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمېشنرۍ | |
| **د کلستر له همغږي کوونکي سره د اړیکي جزئیا ت** | **نوم:** مارتا کو-دونکور (Martha KOW-DONKOR)<br>**برېښنا:** coord.afghanistan@sheltercluster.org/kowdonko@unhcr.org<br>**ګرځنده ټیلفون:** +۹۳(۰)۷۹۱۹۹۰۰۴۹ | |
| **همکار حکومتي بنسټ او له هغه سره د اړیکي جزئیات** | **نوم:** د کلیو بیارغاوني او پراختیا وزارت<br>**نوم:** محمد شریف علیزي<br>**برېښنالیک:** sharif.alizai@mrrd.gov.af<br>**ګرځنده ټیلفون:** +۹۳(۰)۷۹۷۹۷۷۵۷۳ | |
| **د کلستر مرستیال همغږی کوونکی/ د کلستر رهبري کوونکي مرستیال** | د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمېشنرۍ<br>**نوم:** محمد باقر حیدری<br>**برېښنالیک:** haidari@unhcr.org<br>**ګرځنده ټیلفون:** +۹۳(۰)۷۹۱۹۹۰۱۳۸ | **بنسټ:** د کډوالۍ نړیوال سازمان<br>**نوم:** ګل محمد احمدی<br>**برېښنالیک:** gahmadi@iom.int<br>**ګرځنده ټیلفون:** +۹۳(۰)۷۹۰۶۵۹۵۷۳ |
| **د معلوماتو د مدیریت مسوول یا آفیسر** | **بنسټ:** د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمېشنرۍ<br>**نوم:** کادر شیمسو Kedir Shemsu Mohamed<br>**برېښنالیک:** im.afghanistan@sheltercluster.org/mohameke@unhcr.org<br>ګرځنده ټیلفون: +۹۳(۰)۷۹۱۹۹۰۱۵۴ | |
| **د استراتیژیک مشورتي ګروپ (SAG) – بنسټونه یا مؤسسې** | **فعال غړي:** UNHCR, IOM, UNICEF, HRDA, ECHO, WSTA, NRC, IRC, ARCS، د کلستر همغږی کوونکی، د کلستر مرستیال همغږی کوونکي ، د کلیو بیارغاوني او پراختیا وزارت، د کډوالو او راستینودونکیو چارو وزارت، د کور او ښار جوړولو وزارت، د ملګرو ملتونو د بشري اسکانو دفتر.<br><br>څاروونکي: OCHA & ICRC<br>ستراتیژیک مشورتي ګروپ (SAG) د کلستر ستراتیژیک استازی دی او فعال همکار شریکان باید له دغه ګروپ سره خپلې ستراتیژۍ د بشردوستي د پړندل شویو اړتیاوو، عملیاتي لومړیتوبونو او بشر دوستانه معیارونو سره سم همغږي کړي. همدارنګه یاد ګروپ د کډو عملیاتي ستراتیژیو او تخنیکي لارښودونو په تدوین او کاري پلانونو، د ځواب ورکوونې او څارنې او ارزونې او د مالي مرستو لپاره د حق‌غوښتنې د ملاتړي مأخذ سرچینه وګڼل شي.<br>له دي سربېره، د کلستر همغږی لپاره یو متمم او مهم میکانیزم ګڼل کېږي. د دغه مشورتي ګروپ ریاست د کلستر همغږي کوونکي پر غاړه دی چې د وروستیو تحولاتو په اړه په منظم ډول د کلستر غړو ته معلومات ورکوي. د غونډو تناوب یا تکرار د اړتیا په صورت کې وي. | |

| | |
|---|---|
| | |
| د کلستر همکار غړي | ACF \| ACTED \| ADRA \| AFGHAN AID \| AIESO \| ARCS \| CARE \| CARITAS GERMANY \| CHRISTIAN AID \| CONCERN \| CORDAID \| DRC \| FOCUS \| HI \| HRDA \| IFRC \| IR \| IRC \| iMMAP \| IMC \| IOM \| ISLAMIC RELIEF \| MISSION EAST \| NAC \| NCA \| NCRO \| NOMAD CONCEPT GROUP (private sector) \| NRC \| PIN \| PU-AMI \| QRCS \| REACH \| RELIEF INT \| SAMUEL HALL \| SAVE THE CHILDREN \| SHELTER FOR LIFE \| SOLIDARITE INT \| UNICEF \| UNHCR \| UN-HABITAT \| WAR CHILD \| WSTA\| WELTHUNGERHILFE \| ZOA |
| اړوند تخنیکی کاري ګروپونه(TwiGs) | تخنيكي كاري ګروپ (TWIGs) د سرپناه کلسټر ټیم او نورو ښکیلو همکارانو له‌خوا په موردي بڼه د اړتیا په صورت کې د دندو له مشخصو کاري لایحو سره رامنځته کېږي.<br>د کلسټر همغږی کوونکي د هر ګروپ د کاري آسانتیا په موخه د یو استازي په توګه کمارل کېږي. دغه ګروپونه د محدودې مودې له‌پاره فعالیت لري او په دندو لایحو کې جوتو شویو د پام وړ پایلو له ترلاسه کیدو وروسته لغو کېږي.<br>1. د کرايې له‌پاره د نغدو پيسو تخنيكي كاري ګروپ ( د ACTED دفتر رياست ته)<br>2. د لنډمهاله سرپناه تخنيكي كاري ګروپ (د NRC دفتر رياست ته)<br>3. د کور د ثبت او درج تخنیکی کاري ګروپ ( د ملګرو ملتونو د بشري اسکانو د دفتر رياست ته)<br>4. د غیر خوراکي اقلامو د کڅوړو تجدید او بیاکتنه ( د هغه کاري تخنيكي ګروپ باید تشکیل شي)<br>5. د سرپناه د پراختیا له‌پاره د غوراوي معیار د لومړیتوب بندی تخنيكي كاري ګروپ ( د بیړنی سرپناه/ د کډوالی بین المللي سازمان د غير خوراکي توکیو د څانګې رياست ته)<br>6. د سرپناه په اړه د شکایتونو د فیډبک ګډ میکانیزم ( د هغه کاري تخنيكي ګروپ باید تشکیل شي) |

## د سرپناه کلسټر ستراتیژی:

| | |
|---|---|
| وضعیت | په افغانستان کې د بې‌ځایه شویو او راستنوشو یو له‌پاره به د سرپناه اړتیا د یو مهم لومړیتوب په توګه پاتې شي. د ځمکې د اجا رې مسايلو او د دا يې حل لا رو نشتون سره مل د بې ځایه شویو لوړې کچې ته په پام سره بناېي چې وضعیت دې په نېږدې راتلوونکې کې ښه نه شي. دغه حالت به په ځانګړې توګه په لوړه کچه زیانمنوونکیو کورنیو له‌پاره چې په ارزانه او غیر معیاري سرپناوو کې ژوند کوي او د ژوندانه له هر ډول اساسي خدماتو څخه بې برخې دي، يوه ننګونه واوسي.<br>ډېری کورنی د کورونو د لوړې کرايې له کبله ګډ ژوند کوي چې له یوې خوا په خونه کې د شته کسانو شمېر لوړېږي او له بل لوري د میرمنو او نجونو له‌پاره محرمه فضاء محدودېږي. د ژوند لوړ لګښت ته په پام سره ډېری زیانمنوونکې کورنی بناېي د اړتیا له مخې غیر پلاني د اوسیدو سیمو ( غیررسمي) ته لاړې شي، هغه ځایونه چې لا هم د سرپناه کافي غوراوي په کې د لاسرسي وړ نه دي او شرایط يې خراب دي. یوازې په ننګرهار ولایت کې غیر پلاني د اوسیدو سیمو شمېر د ۲۰۱۷ کال فبروي څخه د جولای تر میاشتې پورې له ۲۹ څخه ۵۳ ته لوړ شوی. نن یوازې له یو میلیون څخه لږ څه کم بې‌ځایه شوي کسان په ننګرهار کې په غیرپلاني سیمو کې ژوند کوي، په داسې حال کې چې دغه شمېر اوه میاشتې مخکې ۴۲۹۰۰۰ تنو ته رسید، په ټوله کې اوس مهال د افغانستان د ولایتونو مرکزونه د ۵۴ سلنه دا خلی بېځایه شویو کو رنیو کوربه دي چې د خدماتو پر وړاندې کولو او به شته یا موجوده زیربناوو يې ډېر فشارو راوستی او د کوربه او بې ځایه شویو ټولنو ترمنځ خد ما تی سرچینو ته د لاسرسی پر سر د سیالی د زیاتوالي لامل شوي دي ( په افغانستان کې د کور وضعیت: کلیدي حقایق او شمېرو ته مراجعه وکړئ)<br><br>• په لومړي ګام کې زیانمنوونکي کورنی د کلسټر له‌خوا لومړیتوب بندي کېږي او د راستنیدونکیو، د جبري اخراج له خطر سره مخ، د لاسرسي وړ پرانستې او په ستونزمنه توګه د لاسرسي وړ سیمو ورګړیو په شمول د بېړینو حالاتو په پایله کې د ښځو تر سرپرستی لاندې کورنی په‌کې راځي چې د بیړنی سرپناه او د غیرخوارکي اقلامو د مرستې له‌پاره د هدف وړ کټګوریو کې شاملېږي څو یې له |

عناصرو څخه فردي محرمیت، خوندیتوب، وقار او د ساتنې او روغتیایي خطرونو کموالی تضمین شي. تمه ده چې اغېزمنو کسانو ته د لاسرسي ستونزو په څېر یو زیات شمېر لاملونو په پام کې نیولو سره بې‌ځایه شویو او راستنو شیو لپاره تر ۷۲ ساعتو الی ۳ میاشتو پورې په وخت سره د ځواب وینې میکانیزم چمتو شي.


- په راتلوونکي پړاو کې، کلستر د شته سرپناه د بنه‌والي په برخه کې په ځانګړې توګه د زیاتې مودې زیانمنتیا سره مخ کورنیو لپاره ( داخلي بې‌ځایه شوي، راستانه شوي) چې په بدو شرایطو او لنډمهاله سرپناوو کې ژوند کوي، اقدام کوي. نوي بې ځایه شوي او راستانه شوي به د اړتیاوو پر بنسټ، له دغه ډول مرستو څخه ګټه پورته کړي. د سرپناه ورته مرستې به د هغو کورنیو لپاره هم چمتو شي چې د زیانمنتیا له لوړې کچې سره مخ دي او په هغو سیمو کې ژوند کوي چې زیات شمېر بې ځایه شوې او راستنې شوې په‌کې اوسېږي.
- په دریم ګام کې: اوږدمهاله بې‌ځایه شوي او هغه راستانه شوي چې د ځمکې مطمن اسناد ولری ، د محرمیت شرایطو او د رواني او روحي سلامتیا د ښه‌والي، خوندیتوب او امنیت او همدارنګه تر هغه چې د دایمی حل‌لارې په لټه کې وي، منځمهاله اړتیاوو ته د رسیدنې له پاره د لنډمهاله سرپناوو د جوړولو لپاره مرستې ترلاسه کړي.
- د موسومي ځواب وینې لپاره به په شدیده توګه زیانمنوونکې کورنی چې په هغو کې کورني بې‌خایه شوي، راستانه شوي، د حادې اړتیا لرونکي کوربه کورنی چې د ژمي له شرایطو سره د مقابلې میکانیزمونه نه لري، د ژمنیو مرستو لپاره لومړیتوب ورکول کیږی. د ژمنیو مرستو ستراتیژی نوي کولو باندې به کار وشي.

**استراتیژیک لومړیتوبونه:**

د کلستر لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه به پر HLP پورې اړوندو مسایلو د ادغام لپاره محافظت پایلو ته پر لاسرسي، حقوق حما یت ، جنډر، سن، معلولیت او اغېزمنو کسانو ته پر حساب ورکوونې متمرکز وي.

- د بیړنی سرپناه او ژمنیو مرستو په شمول غیر خوراکي اقلامو د چمتو کولو له لارې د ژوندانه اساسي خدماتو ( د ژوند ژغوونکي) ته لاسرسي.
- د خوندي شرایطو او باوقاره ژوندانه په موخه د محافظت خطرونو لا راکمول.
- په ستراتیژیکو محلاتو کې د ایمرجنسي پلان، د بیړنی سرپناه او غیر خوراکي اقلامو په شمول د همغږی، ځواب وینې، وړتیا لوړونې، او همغږی میکانیزمونو پیاوړتیا لپاره د کافي وړتیاوو رامنځته کول؛
- د محصولاتو او موادو د معلوماتو د مدیریت او ارزونې  او له وېش وروسته څارنې په شمول څارنه او ریپورټ ورکوونه.
- د لنډمهالي سرپناه، له نورو کلسترونو سره د پروګرام د ادغام، د معیشت پروګرامونو ښکیلو کسانو سره د اړیکو او له چارواکیو سره د همغږی د پیاوړتیا او حق‌غوښتنې لپاره د تخنیکي ملاتړ، توکیو او وسایلو چمتو کولو له لارې د پایښت وړ حل‌لارو موندلو لپاره له هڅو څخه ملاتړ.

**د کلستر له لارې د ځواب‌وینې فعالیتونو لپاره د بېلابېلو کټګوریو ځانګړنې:**




| | |
|---|---|
| **د هیواد په کچه د بشردوستانه فعالیتونو د ځواب‌ویني پلان هدفونه(HRP)** | 1. د لوړې کچې اړتیاوو لروونکیو سیمو کې حیاتي اقدامات<br>2. د ساتنې د سرغړونې پیښو راکمیدل او بشردوستانه بین المللي قوانینو ته د درناوي زیاتوالی.<br>3. هغو کسانو ته په وخت سره د مرستو چمتو کول چې په آني حالاتو کې راګیر وي. |
| **د کلستر هدفونه** | • لومړی هدف: سرپناه او غیر خوراکي اقلامو ته د کورنیو بې ځایه شویو او زیانمنکیو راستنډونکیو له کافي او په وخت لاسرسي څخه د ډاډ ترلاسه کول.<br>• دویم هدف: له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې د زیانمنونکیو کسانو د ژوند په شرایطو کې ښه‌والی راځي.<br>• دریم هدف: د چمتووالي اقداماتو، د بیړنیو سرپناوو او غیر خوراکي اقلامو د چمتو کولو له لارې د ځواب وینې له کافي وړتیا څخه ډاډ ترلاسه کول. |
| **کلیدي مسایل** | **د ځمکې حقوق او مالکیت:** ډېری کورني بې‌ځایه شوي او راستنیدونکي د ( فقر او بې‌ځایه کیدو لاملونو ) پر بنسټ د ځمکې حقونو ته لاسرسي نه‌لري او په ځینو وختونو کې د ځمکې اړوندې شخړې په کوربه ټولنو کې د شخړو د زیاتوالي لامل ګرځي. حکومت د ځمکې او اراضي پالیسۍ نهایي کړې او تمه کېږي چې په نږدې راتلوونکې کې توشیح شي. له دې سربېره، حکومت د کور جوړولو ملي پالیسي د چمتووالي په حال کې دی چې د ټولنیزو او اقتصادي لاملونو په شمول د کافي کورونو تضمینوونکې کیدی شي. |

له دې هڅو سره سره، د ځمکې او کور سترې ستونزې ته رسیدنه بنایي د یو زیات شمېر شته اړتیاوو او لاملونو په پام کې نیولو سره په نېږدې راتلوونکي ممکنه نه وي له همدې امله به بنایي ننګونې لاهم پر خپل ځای پاتې وي.

د سرپناه او غیر خوراکي اقلامو د اړتیاوو لهپاره **د تمویلوونکیو په مالي مرستو کې د پام‌وړ کموالی** د کافي حل‌لارو میکانیزم اغېزمنوي. سربېره پر دې، د کلسټر همکارانو د سترګو لیدلی حال دا بیانوي چې تمویلوونکی تر ډېره دې ته لیواله دي چې د بشر دوستانه فعالیتونو له لارې د لنډمهاله سرپناوو د جوړیدو په برخه کې مرستې وکړي؛ په داسې حال چې د تشنابونو جوړولو چارې د اوبو، حفظ الصحې او نظافت ( واشWASH) کلسټر لهخوا ترسره کېږي.

**بیړني سرپناه** (ES) **یا غیر خوراکي اقلامو د ځواب‌ویني لهپاره د توافقي معیارونو ټینګښت** لاهم د یوې ننګونې په توګه پاتې دی. ځکه چې د نغدو پیسو او یا جنس په توګه د مرستندویه کڅوړو په بڼه کې لاهم توپیرونه شته دي، دا په داسې حال کې ده چې ځینې همکاران په دې برخه کې نیمګړې کڅوړې چمتو کوي. هغه بنسټونه چې د بېلابېلو موخو لهپاره نغدي مرستې چمتو کوي، ډېرو یې د دوو میاشتو لهپاره د کرایې لګښت ورکړی چې د منلو وړ معیار څخه کم دی. د هغو میکانیزمونو د پېژندلو په هدف د کلسټر داخلي همغږي چې د یوې میاشتې پاتې کرایه تر پوښښ لاندې نیسي، یو ننګوونه ده، ځکه چې که نغدي مرستې د بېلابېلو موخو لهپاره چمتو کېږي، همکار شریکباڼي د بیړنۍ ځواب وینې بهیر بشپړ ګڼي او پر هغو کسانو تمرکز کوي چې د مرستو تر پوښښ لاندې نه دي نیول شوي.

په لاسرسي او امنیت پورې اړوندې ستونزې په مستقیم ډول اړو کسانو ته بشردوستانه فعالیتونه اغېزمنوي او مناسبې ارزونې او د تطبیق، څارنې او ارزونې فعالیتونه یې تر سیوري لاندې راوستلی شي. کلسټر د لاسرسي لهپاره د یوې ستراتیژۍ پر پراختیا کار کوي څو هغو سیمو ته د لاسرې په هدف چې د کلسټر همکاران ورتللی نهشي، د همغږي پیاوړیتا یا **ARCS**و **ICRC** په شمول د لاسرسي پر وړاندې ځینو شته ننګونو ته د رسیدنې لهپاره یوه معمولي تګلاره او همدارنګه د ټولنې لهخوا د فعالیتونو د منلو پیاوړتیا، ترلاس لاندې ونیول شي. له دې سربېره دې د ملګرو ملتونو او بین المللي نادولتي مؤسسې له هغو ملي همکارو مؤسسو سره د مشارکت کچه لوړه کړي چې د لاسرسي لوړه کچه لري، خو د ارزونې او ځواب وینې له اړخه یې وړتیا محدوده یا صفر ده.

د لیوالتیا قطع کېدل او بهر کېدل ( د نه شتون په صورت کې) د کور او ځای پر ځای کېدو د پایښت وړ حل لاره د دې لامل ګرځي چې د کلسټر همکارو خیریه بنسټونو باندې اضافي بار ور وزیات شي، ځکه د بیړنیو مرستو په تعقیب د پایښت وړ کلیدي حل لارې یا مداخلې نشته دي. دېته اړتیا ده څو د بیړنۍ ځواب وینې ملي میکانیزمونو سره د ګډ کار او همغږۍ د زیاتوالي، د همغږۍ پر چوکاټ او همدارنګه د مرستو په یو شان کولو او بېلابېلو طریقو باندې کار وشي.

د کلسټر د همغږۍ له چوکاټ څخه بهر شریکانو سره د بیړنۍ سرپناه او غیرخوراکي اقلامو د معیارونو د یو شان کولو پر وړاندې ننګونې شته دي، د بشر دوستانه اړتیاوو ځواب وینې برخه کې له یو شمېر بنکیلو همکارانو سره د همغږۍ رامنځته کولو لهپاره هڅې شوي دي، خو هغوی له کلسټر سره همغږي نه کوي. دغه تګلاره د کلونو په ترڅ کې د **FTS** له لارې د هغو د پېژندنې او همدارنګه د فعالیتونو تر ترسره کېدو پورې دوام مومي.

**ارزونې**

د بیړنۍ سرپناه یا غیرخوراکي اقلامو د ځواب وینې ټول میکانیزمونه به د اړتیاوو دسکتوري ټولیزو یا چټکو ارزونو په رڼا کې ترسره شي. د چټکې ارزونې او په هغو کسانو کې د ګټه اخیستوونکي د غوراوي لهپاره چې د جګړې له امله اغېزمن شوي او یا له ګاونډیو هېوادونو څخه راستانه شوي، بنایي له HEAT څخه استفاده وشي. دا په داسې حال کې ده چې د طبیعي پیښو له امله زیانمن شویو کسانو کې به د حکومت د توافقي طبیعي پیښو د شمېر له مدیریت سره مطابق له RAF څخه استفاده وشي. د سرپناه د پراختیا په موخه به د کلسټر له مشخصې ارزونې او د استفاده

| | |
|---|---|
| | کوونکیو د غوراوي له وسایلو څخه استفاده وشي. د سرپناه پر ټولنیز وضعیت د  پوهیدو په موخه به د ولسوالۍ په کچه د سرپناه له مشخصو وسایلو او د ژمنیو مرستو د ځواب ویلو په هدف به د کلسټر له مشخصو وسایلو څخه استفاده وشي. کلسټر به له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لهپاره چې تر ټولو زیانمنونکې کورنۍ تر پوښښ لاندې نیول شوې او په لومړیتوب کې دي، د هدف وړ کسانو لهخوا د زیانمنې کارت د نمرې ورکولو له میکانیزم څخه استفاده وکړي. ټولې ارزونې او د اړتیاوو تحلیل باید له جغرافیایي اړخه د اړو ساحو او د شواهدو پر بنسټ تر ټولو زیانمنونکیو کسانو دلومړیتوب درجه بندي تضمین کړي. د شته وسایلو او لاربښودونو تر مطالعې وروسته ځینې نیمګړتیاوې وپېژندل شوې چې رسیدنې ته اړتیا لري. له همدې امله کلسټر د دغو وسایلو او لاربښودنو بیاکتنې ته لومړیتوب ورکړی او همدارنګه اړتیا ته په پام سره نوي، وسایلو ته پراختیا ورکوي څو د کلسټر ځواب وینې د شواهدو پر بنسټ وي او تحلیل د سیستماتیکې څارنې په بنه د مداخلو د  د اغېزو لهپاره ترسره شي ( د معلوماتو مدیریت بیاکتنې ته د مراجعه وشي)<br>د هغو ارزونو لیسټ چې په دې وروستیو کې ترسره شوي او پلان شوي له مهالوېش سره یوځای او یاد رپیټورنه د کلسټر په  ویب سایټ کې خپاره شوي دي. |
| حقغوښتنه او د سرچینو انسجام | **حقغوښتنه:** د محافظت کلسټر او تخنیکي مشورتي ګروپ سره په همغږۍ د اغېزمنو خلکو لهپاره د پایښت وړ حللارو موندلو په موخه د حق غوښتنې کلیدي پیامونه چمتو کوي او د اوږدمهاله او دوام لهپاره یې د HCT، DiREC او داسې نورو میکانیزمونو له لارې له حکومتي او پراختیایي شریکانو سره شریکوي. همدارنګه کلسټر د HCT ښکیلولو لهپاره د حقغوښتنې او همدارنګه د اغېزمن نفوس د اړتیاوو د جوتولو په موخه د ځانګړیو سکټورونو لهپاره د حق غوښتنې پیامونو د چمتو کولو په برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.<br><br>**د سرچینو انسجام:** د یو ګډ تمویلوونکي میکانیزم په توګه اساسي نیمګړتیاوې تر پوښښ لاندې نیسي، د ځوابوینې لهپاره د کافي او پر وخت مالي پانګې د ترلاسه کولو په برخه کې د کلسټر همکارو شریکانو د ملاتړ په موخه کې د دوو اړخیزو تمویلوونکیو او د تمویلوونکیو ګروپونو د ښکیلولو له لارې د مالي سرچینو موندلو لهپاره د حقغوښتنې په موخه هڅې به تر لاس لاندې ونیول شي. |
| څارنه او ارزونه | د ریپورټ ورکوونې له لارې به **د سټاک فعالیتونو څارنې** او نویو کولو ته دوام ورکړل شي. له اغېزو څخه څارنه  د وېش له بهیر وروسته څارنې له لارې ترسره کېږي او د کلسټر ډېری مداخلې به د زدهکړل شویو درسونو په رڼا کې تنظیم شي. سربېره پر دې، کلسټر د یوې درې کلنې دورې ( ۲۰۱۸ ـ ۲۰۲۱ کلونه) لهپاره د کلسټر ځواب وینې میکانیزم له اجراآتو څخه د څارنې لهپاره یو څارنیز چوکاټ جوړ کړی دی. |

## تخنيکي معيارونه او د مداخلو ډولونه

### د مداخلې ډولونه

اغېزمنو کسانو ته به بيړنۍ سرپناه يا د غيرخوراکي توکيو مرستې ( په نغدي يا جنسي بڼه) د هغوی د ربښتنو اړتياوو له تشخيص وروسته او د کلسټر لهخوا د حد اقل ټاکل شويو معيارونو مطابق چمتو شي. له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو لهپاره به هڅې وشي چې د مرستو ورته کچه د اړتياوو پر بنسټ د معياري توافقي کڅوړو د وېش د بهیر له لارې تنظيمېږي. کله چې کڅوړې ( د نغدو پيسو يا جنس په بڼه) د خوړو د خونديتوب او کرنې کلسټر (FSAC) يا د اوبو مداخلو يا مرستو، حفظ الصحې او نظافت ( واش) سره يوځای ووېشل شي، تحليل، تجزيه او وېش په ګډه توګه ترسره کېږي څو د څو سکټوري زيانمنتياوو او يا د ګډو فعاليتونو يا مداخلو له معيارونو څخه په استفادې سره د لګښت او وخت مثمريت تضمين کړای شي. د تخنيکي کاري ګروپ په مرسته به د لنډمهالې سرپناه په طرحه باندې بياکتنه وشي او تجديد به شي. د کورد ملي پاليسي د تدوين په پام کې نيولو سره ته کېږي چې د سرپناه ډيزاين به د حکومتي شريکانو په همغږۍ بيا وکتل شي څو د ګډونوالو ترمنځ يو متمرکزه او مناسبه تګلاره رامنځته او له پراختيايي همکارانو سره د مشارکت په کچه کې ښهوالی راشي.

ته کېږي چې ټول همکار شريکان د بيړنۍ سرپناه او غيرخوراکي اقلامو کلسټر د ځواب وينې بڼه له تخنيکي لاربښودونو او حداقل توافقي معيارونو سره سم ترسره کړي. کلسټر له ځايي چارواکيو او ټولنو سره ګډ کار کوي څو د سرپناه او د غيرخوراکي توکيو مرستې د ځواب وينې د لاندې تګلارو له لارې تر ټولو زيانمنو کسانو ته چمتو شي:

**الف. د غيرخوراکي توکيو چمتو کول**

له ګاونډيو هېوادونو څخه راستنيو شويو په شمول به د وروستيو بيړنيو حالاتو په پايله کې پېژندل شويو زيانمنو کسانو ته د کلسټر د غيرخوراکي توکيو بشپړې کڅوړې په نغدي بڼه د مرستو دکڅوړود معيارونو پر بنسټ ( ۸۵ امريکايي ډالره) او يا هم په جنسي بڼه د اړتياوو د ارزونې په پام کې نيولو سره چمتو شي. د بشپړې کڅوړې چمتو کول همغږي يا يوشان کول تضمينوي. ځينې وختونه ليدل شوي چې يو کم شمېر شديد زيانمنونکي کسان چې په اوږدمهاله وضعيت ( ۶ مياشتې ـ ۲ کاله ) کې قرار لري، ښايي ځينو اساسي غيرخوراکي توکيو لکه د پخلنځي لوازمو ته اړتيا ولري. د اړتياوو له ارزونې وروسته، دغه کورنۍ د خپلې اړتيا پر بنسټ خپل مشخص غيرخوراکي اقلام ترلاسه کوي. سره له دې چې غير معياري غيرخوراکي توکي ( انفرادي اقلام) چمتو کېږي، خو د ځواب وينې کڅوړې په توګه به معياري ونه ګڼل شي.

**ب. د بيړنۍ سرپناه چمتو کول**

د جګړو، طبيعي پېښو او له ګاونډيو هېوادونو څخه هېواد ته د راستنيدونکيو له امله زېږنده وضعيت څخه د کلسټر د مشخصې ارزونې يا په کلسټر کې دننه ارزونې له لارې د بيړنۍ ارزونې په تعقيب، کلسټر زيانمنونکيو کورنيو ته د کرايې لهپاره د درېيو مياشتو لهپاره په يو يا درېيو قسطونو کې په نغدي بڼه د بيړنۍ سرپناه بشپړه کڅوړه ( په هره مياشت کې ۷۵ ډالره کرايه) او يا د بازار شرايطو يا نورو لاملونو ته په پام سره د بيړنۍ سرپناه کيټ ( خيمه يا دوه ترپالونه) چمتو کړي ( د کرايې لهپاره نغدو پيسو لاربښود ته مراجعه وکړئ) د هغې کرايې لهپاره مرسته چې له درېيو مياشتو څخه کمه وي، د معياري ځواب‌وينې کڅوړې په توګه نه ګڼل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې له درېيو مياشتو څخه زياتې کرايې لهپاره نغدې پيسې د اضافي پيسو يا لنډمهاله سرپناه مډل په چوکاټ کې څرنګه چې لاندې ورنه يادونه شوې، قرار لري. همدارنګه د بېړنۍ سرپناه کيټ چې يوه خيمه او دوه ترپالونه په کې شامل دي، د معياري کڅوړې په توګه ګڼل کېږي. د اړتيا په صورت کې د بسته بندۍ وسايل وېشل کېدی شي. د کلسټر ټول همکاران بايد خپل فعاليتونه د معيارونو مطابق عيار کړي څو د اغېزمنو کورنيو د بيړني اوحياتي اړتياوو سره جوړجاړی او رسيدنه تضمين کړي.

د کرايې لهپاره د نغدو پيسو ميکانيزم له اوږدمهاله مرستو سره د هغه د تړاو په تعقيب، له پراختيايي همکارانو سره په همغږۍ ترسره کېږي څو د ساتنې پر وړاندې ډېرې خطرونه راکم شي. د افغانستان اقليمي وضعيت ته په پام سره، تمه کېږي چې بيړنۍ سرپناه کيټ به د ۶ مياشتو لهپاره کار ورکوي له همدې امله بايد د منځمهالو مرستو ( لنډمهالو سرپناوو) له لارې تعقيب شي. له دې امله زيانمنونکې کورنۍ چې په دې وروستيو کې له بيړنۍ حالت څخه اغېزمنې شوي، بايد د بيړنۍ سرپناه

لەپاره د لومړني هدف وړ ګروپ په توګه وګڼل شي. په ډېرى نادره وختونو کې انفرادي زيانمنوونکې کورنۍ چې په اوږدمهال کې ژوند کوي او د ژر پرېښودو يا محافظت له جدي خطرونو سره مخ دي، بنايي د بيړنۍ سرپناه مرستو له پاره د هدف وړ کټګورۍ کې شاملې شي. دغه کورنۍ د تشخيص او د محافظتي ځارنې د رجعت ورکولو د ميکانيزم له لارې راجع يا معرفي کېږي.

**ج. د شته سرپناه پراختيا**

څرنګه چې په ډېرى ارزونو کې څرګنده شوې ، د هغوکسانو په شمول چې نوي بې ځايه شوي او يا د طبيعي پيښو له امله اغېزمن شوي، زيانمنوونکې کورنۍ ډېرى په خپلو نيمه ودانو شويو سرپناوو يا هم په ځينو حالاتو کې په خپل لاس جوړو شويو يا هم په ناکاره ودانيو کې ژوند کوي چې د خافظت لااقل هيڅ عناصر هم نهلري او له ډېرى محافظتي او روغتيايي خطرونو سره مخ دي. د کلسټر لهخوا د دغو کورنيو د ژوندانه شرايطو د ښهوالي او د هغوى له محافظت څخه د ډاډمنتيا په موخه او همدارنګه د خوندي يا باوقاره ژوندانه برابرولو لهپاره د خپلې سرپناه د ترميم او پراختيا لهپاره د وسايلو په شمول د جنس په بڼه يا د هغو معادل ۳۰۰ امريکايي ډالر مرسته کېږي. وضعيت ته په پام سره، بنايي هغوى ته نغدي پيسې په يو قسط کې برابرې شي خو کلسټر دې ته ترجيح ورکوي چې هغوى ته نغدې پيسې په دوو يا درې قسطونو کې چمتو شي څو مناسبه ځارنه او مطلوبو پايلو ته لاسرسي تضمين شي. د سرپناه ټول پروګرامونه بايد د تخنيکي لارښوونې او ځارنې له پلوه حمايه شي. د هغوى د سرپناه ترميم يا پراختيا په هغه صورت کې چې د لازيات زيان لامل نه شي، ترسره کېږي ( لارښودونو ته مراجعه وکړئ) هغه زيانمنوونکې کورنۍ چې د بېړنيو حالاتو له امله زيانمنې شوې او هغوى چې د اوږدمهال لهپاره په دغسې وضعيت کې ژوند کوي، د سرپناه د پراختيا لهپاره د هدف وړ کټګورۍ دي چې کيدى شي په ژمنې کې يې کافي محافظت او د عايق زياتوالي تضمينونکې واوسي.

**د. لندمهاله سرپناه:**

د کلسټر لهخوا کله چې د پايښت وړ حل لارې په لټه کې وي، د منځمهاله ملاتړ چمتو کولو د عمده هدف لهپاره د لندمهاله سرپناه ډيزاين تجديد او بياکتل شوى دى. کله چې په خپله ځمکه کې ژوند کوئ او يا هم د اوږدمهاله کور موضوع مطرحه وي، ياد ډيزاين تر يوې کچې د سرپناه د پراختيا په برخه کې د انعطاف وړ ګڼل کيدى شي.
په افغانستان کې کور ته اړتيا ډېره زياته ده او دا د حکومت اساسي مسووليت دى چې د خصوصي او پراختيايي سکټور په ملاتړ د بې ځايه شويوکورنيو، راستنيدونکيو او کوربه ټولنې په شمول افغانانو ته اوږدمهاله کورونه چمتو کړي، چې له بده مرغه د عاجلې او بيړنۍ سرپناه د ځواب وينې او د اوږدمهاله او منځمهاله کور لهپاره د مرستو د ځواب وينې ترمنځ ستره تشه موجوده ده. دغه پراختيايي تشه د دې لامل ګرځي څو اغېزمن خلک په يو مزمن بشردوستانه وضعيت کې راشي او د غير پلاني اوسيدو ځايونو د زياتوالي لامل شي هغه ځايونه چې د ژوند شرايط په کې خراب دي او بالاخره زيانمنوونکې کورنۍ د ژوند د مقابلې لهپاره منفي ميکانيزمونه غوره کوي.

دې ته په پام سره چې د بې ځايه شويو زياته سلنه ځمکې ته لاسرسى نهلري او کرايي کورونو کې اوسېږي، د کرايې لهپاره نغدې پيسې(CFR) د سرپناه يو انتقالي پروګرام ګڼل کېږي. کله چې زيانمنوونکيو کورنيو ته د کرايې لهپاره د مرستندوى ستراتيژۍ په توګه ومنل شي او يا د معيشت بيارغاونې اصل څخه استفاده وشي، د کرايي کور واحد بايد کم له کمه تخنيکي معيارونه پوره او کورنيو او بهرنيو نغدې پيسې نوښتونو ته د هغو راجع کول په پام کې ونيول شي ( تل د اضافي نغدو پيسيو د موډل په توګه)
په داسې حال کې چې کلسټر تر ډېره حياتي بيړنيو اړتياوو ته پر رسيدو تمرکز لري، هغو ډېرو شديدو زيانمنوونکيو کورنيو ته به د منځمهاله سرپناه د مرستو چمتو کولو ته ځانګړې پاملرنه وشي چې په اوږدمهاله وضعيت کې ژوند کوي، د ځمکې خاوند وي او يا لندمهاله سرپناه ( کم له کمه د دوو کلونو لهپاره) ولري، د پايښت وړيادايي حل لارې تر موندلو پورې به د منځمهاله سرپناه مرستې ورته چمتو شي.
له همدې امله په شديده توګه زياتمنوونکې کورنۍ چې په لاندې سرپناوو کې ژوند کوي، د کلسټر لهخوا تر پوښښ لاندې نيول کېږي:

- هغوى چې له شپږو مياشتو څخه د ډېر وخت لهپاره په لندمهاله سرپناه ( خېمو) کې ژوند کوي.

- هغوی چې له فوري اخراج سره مخ دي او له درېیو کلونو څخه د ډېر وخت لپاره د بې ځایه کیدو په ځای کې د اوسیدو قصد لري او یا اصلي ځای ته د ستنیدو قصد ونه‌لري.
- هغوی چې د اوسیدو اصلي ځای ته راستانه شوي وي.
- هغوی چې په خپل لاس جوړه شوې یا ترمیم شوې سرپناه یې د ترمیم او پراختیا وړتیا ولري.

د بازار وضعیت ته په پام سره، د توکیو لاسرسی او شتون او همدارنګه اوبو ته د لاسرسي په پام کې نیولو سره، په درېیو یا څلورو پړاوونو کې په ټولیز ډول د۱۲۵۰ امریکایي ډالرو مرسته چمتو کېدی شي. د بازار تحلیل په رڼا کې او د هغوی ډېری لاملونو په پام کې نیولو سره چې په نغدی بڼه مرسته مطلوبه نه ګڼل کېږي، کلسټر به په څو پړاوونو کې مواد چمتو کړي. د ټولنې د مشارکت په کډون ټول طرزالعملونه د ځمکې د مالکیت، تخنیکي ملاتړ، ساحوي څارنې او د رغاونې پر محال اوبو ته د لاسرسي او تشناب جمتووالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه له واش کلسټر سره د همکارۍ په اړه وضاحت باید د هر ډول لندمهالي سرپناه له جوړېدو مخکې په پام کې ونیول شي. د یوې ۷ کسیزې کورنۍ لپاره د یو دهلیز په شمول د یوې خونې لندمهاله سرپناه ( ۲۵ متر مربعې په اندازه) دی. هغه کورنۍ چې له ۷ کسو څخه زیات غړي لري، ډېر ځای ته اړتیا لري، له همدې امله د سرپناه ډیزاین باید د سترو کورنیو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره تنظیم شي. د یادونې ده چې کورنۍ په دې اړه چې دهلیز ونه‌لري او یا هم د ډیزاین د بدلون لپاره وړاندیز مطرحه کولی شي ( لاربنود ته دې مراجعه وشي)

**هـ. ژمنی مرستې:**

ژمی په افغانستان کې موسومي نوسان دی چې د شمال او د مرکزي زون په ځینو سیمو کې ډېر شدید وي. ارزونې ښیي چې د بې ځایه کیدو او له بېرنیو هېوادونو څخه د افغانانو راستنیدو په پایله کې ډېری زیانمنونکې کورنۍ له ننګونو سره د کمې مقابلې میکانیزمونه هم نه‌لري او د لازیات محافظت او د ژوندانه بقاء لپاره د خطر کمولو په برخه کې بشردوستانه مرستو ته اړتیا لري. په ۲۰۰۸ کال کې د کلسټر له جوړیدو راهیسې د ژمنیو مرستو له لارې د حیاتي مرستو او یا ژوند ژغورلو اساسي برخه ګڼل کېږي. د ۲۰۱۸/ ۲۰۱۹ کلونو لپاره ژمنۍ مرستې د PDM له پایلو سره د ۲۰۱۷/ ۲۰۱۸ کلونو ژمنیو مرستو د ځواب وینې په رڼا کې ټاکل شوي، په داسې حال کې چې تر ډېره به د کورونو په ګرمولو کې د اړتیاوو راکمولو له لارې د پایښت وړ حل لارې تر لاس لاندې ونیول شي. په دې اړه به هوکړه وشي او د حکومت او کلسټر د ګډو ژمنو مرستو ستراتیژۍ به له سره وکتل شي. تمه ده چې د کډوالې په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمیشنرۍ په ۲۰۱۸ کال د سرپناه لپاره د منفعل سولري سیستم (plastic veranda) د استفادې په اړه چې د جیریس له‌خوا په بامیانو کې تطبیق شوی، د زده کړل شویو درسونو یوه بېلګه تر لاس لاندې ونیسي. په دغه بېلګه کې به د ۲۰۱۹ / ۲۰۲۰ کلونو لپاره ژمنې ته د ځواب وینې پروګرام شامل وي څو د کور تودولو لپاره د لرګیو له استفادې څخه زیږنده چاپیریالي اغېزې راکمې شي.

## د استفاده کوونکیو عملیاتي تعریف

**د طبیعي پیښو زیانمن شوي ( له بې ځایه شویو پرته ):** هغوی چې خپل کورونه او جایدادونه یې له زلزلې، ځمکې ښویدنې، سیلابونو، واورې ښویدنې، واورې اوریدنې او وچکالۍ څخه زیږنده طبیعي پیښو کې تخریب او په مستقیم ډول اغېزمن کېږي، خو بې‌خایه شوي نه دي او په خپل اوسنې موقعیت کې پاتې کېږي.

**د طبیعي پیښو له امله داخلي بې‌ځایه شوي:** هغوی چې خپل کورونه او جایدادونه یې له زلزلې، ځمکې ښویدنې، سیلابونو، واورې ښویدنې، واورې اوریدنې او وچکالۍ څخه زیږنده طبیعي پیښو کې تخریب او په مستقیم ډول اغېزمن کېږي، او بلې ولسوالۍ یا ولایت ته بېځایه کېږي.

**له جګړې څخه زیانمن شوي ( له بې‌ځایه شویو پرته):** هغوی چې کورونه او جایدادونه یې د جګړې په پایله کې تخریب او په مستقیم ډول اغېزمن کېږي، خو بې‌ځایه شوي نه دي او په خپل اوسني موقعیت کې پاتې کېږي. دغه کورنۍ د ژوندانه د لوړ لګښت او مقابلې میکانیزمونو د نشتوالي له امله د ځای پوښښود اړوند د جګړې له مترافقو حالاتو او د محافظت له شدید خطر سره مخ کېږي.

**له جګړې امله داخلي بې‌ځایه شوي:** هغوی چې کورونه او جایدادونه یې د جګړو له امله تخریب او په مستقیم ډول اغېزمن او د اوسیدو له ځای څخه بې‌ځایه کېږي. د جګړو له امله داخلي بې‌ځایه شوي د قانون او عامه نظم د نقض، ویرې، ځور زیاتي او د محافظت خطرونو په شمول له جګړې څخه مترافقو حالاتو سره مخ کېږي.

**اوږدمهاله کورني بې‌ځایه شوي:** هغه کورني بې‌ځایه شوي ( د جګړو او طبیعي پیښنو له امله اغېزمن شوي) او د ۶ میاشتو یا یو کال له‌پاره بل ځای ته بې ځایه شوي وي او د دریپو کلونو په ترڅ کې خپلې اصلي سیمې ته د ستنیدو اراده ونه‌لري، دا هغه کورنۍ دي چې د حادې زیانمنتیا په کټګورۍ کې راځي او لومړنۍ بیړنۍ مرستې ورته چمتو کېږي خو پاتې بشردوستانه اړتیاوې له ۳ میاشتو وروسته ترلاسه کوي.

**راستنیدونکي:** هغه افغانان چې له ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا پاکستان او ایران څخه راستنېږي. دا هغه کورنۍ دي چې نوي د دریپو میاشتو په ترڅ کې راستنې شوي او یا هم د حادې زیانمنتیا په کټګورۍ کې شاملې شوې او بیړنۍ سرپناه او د غیر خوراکي توکیو مرستې ورته چمتو شوي خو پاتې بشردوسانه اړتیاوې په راتلوونکیو ۳ میاشتو کې ترلاسه کوي.

**کوربه زیانمنوونکي تولنې:** هغه کورنۍ چې د اوږدمهاله کورنیو بېځایه شویو یا راستندونکیو کوربه وي او د سرچینو له کمښت سره مخ وي. په ځینې وختونو کې لیدل شوي چې زیانمنوونکي کوربه کورنۍ ډېره زیانمنتیا لري او د مرستو مستحقې ګڼل کېږي. د کلستر د ځواب وینې په میکانیزم کې ټول راستانه شوي ( ثبت شوي او ناثبت شوي) له افغانستان څخه بهر د هغوی د پخواني وضعیت له په پام کې نیولو پرته په راستنې شوې سیمې کې د اړتیاوو او زیانمنتیاوو پر بربنسټ مرستې ترلاسه کوي. دا په داسې حال کې ده چې د کډوالۍ په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمیشنرۍ او هم د کډوالۍ بین المللي دفتر د راستنیدونکیو له راتګ وروسته د منل کیدو پر مهال د محافظوي مرستو چمتو کولو له‌پاره مشخصه لایحه لري. د UNHCR او IOM له‌پاره د هدف وړ کسانو په اړه د نوور جزئیاتو له‌پاره دې لاندې موارد وکتل شي:

**راستانه شوي کډوال( ثبت شوي):** هغه افغانان چې په تېر کې د شکنجې له ویرې ( د کډوالۍ اسناد یا قانوني وضعیت) بل هېواد ته کډوال شوي وي. د کډوالۍ په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر د دغه بنسټ د ماموریت په پام کې نیولو سره د دغو راستنیدونکیو د منلو پر مهال محافظتي مرستې چمتو کوي.

**راستانه شوي کډوال ( ناثبت):** هغه افغانان چې د کډوالۍ اسناد نه‌لري او په ګاونډیو هېوادونو کې له قانوني اسنادو پرته ژوند کوي د کډوالۍ بین المللي دفتر د دغې ادارې د ماموریت پر بنسټ له راستنیدو وروسته د منل کیدو پر مهال د دغې کټګورۍ کسانو له‌پاره ځو سکتوري مرستې چمتو کوي.

| د ځواب‌وینې ستراتیژۍ | د بنې(مناسبې) سرپناه پروګرام |
|---|---|
| د اړتیاوو ارزونه، تحلیل او تجزیه او ځواب وینه باید د شمېرو راټولولو او د جنس په تفکیک او د نجونو، هلکانو، ښځو او نارینه‌وو توپیر لروونکیو اړتیاوو ته په پام سره ترسره شي، همکار شریکباني باید دا تضمین کړي چې د ارزونې په ټیمونو کې د سروې کوونکیو ښځینه غړي هم شامل دي څو د بېلابېلو مسایلو په اړه کافي معلومات راټول کړي. چې د بیړنۍ سرپناه او نورو | جنډر |

| | |
|---|---|
| | غیرخوراکي توکیو مرستو لهپار د ښځو، نارینه، نجونو او هلکانو او نور زیانمنوونکیو ګروپونو پر وړاندې د خنډونو رامنځته کیدو لامل کېږي، کلستر د جنډر کاري ګروپونو سره په همغږۍ په دوامداره توګه د جنډر د پیاوړتیا او مسیر ورکولو په اړه د همکارو شریکبانو د وړتیا ورکوونې لهپاره بشردوستانه فعالیتونه (*GiHA*) پیاوړې کوي. |
| معلولیت لرونکي وګړي | کلستر د هنډیکپ او د معلولینو ځاني ګروپ سره کار کوي چې د کلستر ځوابوینې له لارې بیړنۍ سرپناه او غیرخوراکي اقلامو لهپاره د دغې کټګورۍ مناسب لاسرسي چمتو او د معلولیت لروونکیو وګړیو د شمولیت موضوع په پام کې ونیول شي. |
| لوړ عمر لرونکي کسان | له دې ډاډ ترلاسه کول چې د زړو کسانو په تېره بیا هغوی ته د سرپناه مرستو چمتو کولو کې معنې لروونکې لاسرسي ته ډېر لومړیتوب ورکول کېږي. ښکیل همکاران دې هغه ځانې تګلارې په پام کې ونیسي چې د زړه کسانو د اړتیاوو ځوابویوونکې وي. |
| زیانمن شویو ( اغېزمنو) کسانو ته حساب ورکوونه | ټول ښکیل همکاران له ساحې د څارنې پر محال شکایتونو او فیډبک ته د رسیدنې میکانیزمونه پیاوړي کوي چې د امکان په صورت کې دغه کار د شکایاتو میز یا له وېش وروسته څارنې څخه هر ډول شکایت ته د رسیدنې لهپاره د شته کارکوونکیو په شتون کې ترسره کیدی شي. له دې سربېره، همکاران په بنسټ کې دننه د اړیکو له مرکز څخه د اغېزمنو کسانو د حساب ورکوونکې پیاوړتیا لهپاره استفاده کولی شي. ټول شته میکانیزمونه ارزول شوي او مطالعه شوي څو د ښکیلو همکارانو د لاملاتړ او لارښوونې په موخه د فیډبک او شکایاتو د کډ میکانیزم لارښود یا چک لیسټ چمتو شي. |
| چاپیریال ساتنه | د چاپیریال حساس پروګرام به د بیړنۍ سرپناه او غیرخوراکي توکیو کلستر د ځواب وینې په ټولو میکانیزمونو کې په پام کې ونیول شي چې په هغو کې له چاپیریال سره د جوړجاړي وړ ځاني توکي، د کورونو تودولو لهپاره د مناسبو تګلارو پېژندل او د چاپیریال د ناوړه اغېزو کمولو لهپاره نور نوښتونه شاملیدی شي. |

## د همغږۍ چوکاټ

| | |
|---|---|
| په داخلي کچه همغږي | - د معلوماتو شریکولو سیستم پیاوړتیا.<br>- له سرچینو څخه د زیاتولو او د تضاعف د مخنیوي په موخه د ځواب وینې ټینګښت او همغږي ارزونه.<br>- د رسمي روزنیزو پروګرامونو او ولایتي استازیو د لارښوونې له لارې په ولایتي کچه د همغږۍ میکانیزمونو پیاوړتیا، څو ځواب وینه کې ښهوالی راشي او ډاډ ترلاسه شي چې په ولایتي کچه تصمیم نیونې په اغېزناکه توګه ترسره کېږي.<br>- د وړتیا لوړونې نوښتونو کې له ژباړوونکیو څخه استفاده.<br>- په عملیاتي کچه د مرستندوی کڅوړو د یو شان کولو څخه د ډاډ ترلاسه کول.<br>- له تضاعف او کمزورۍ څخه د مخنیوي پر میکانیزمونو هوکړه |

| | |
|---|---|
| | د سرپناه نړیوال کلسټر د تخنیکي لارښوونو او په پرلپسې توګه د افغانسان کلسټر د ځواب وینې میکانیزم د ملاتړ او لوري ورکولو کې حیاتي رول ولوبوي. |

**له کلسټر څخه بهر/ دننه همغږي**

| کلسټر | مؤسسه یا متصدي بنسټ | نظریې |
|---|---|---|
| همغږي | OCHA یا د ملګرو ملتونو سازمان د بشري مرستو د همغږی دفتر | په کلسټر کې دننه د هغږی د برخې په توګه د HNO، HRP، sitreps، په برخو کې د CHF او CERF له لارې د حق‌غوښتې او د سرچینو انسجام. |
| د خوړو امنیت | WFP/FAO<br>دخوړو او کرنې سازمان/ نړیوال خوراکي پروګرام | په کلسټر کې دننه د همغږی او همکاری د یوې برخې په توګه همدارنګه ګډه ارزونه او وېش چې په اغېزناکه او وخت سره د اغېزمنو وګړیو هر اړخېزې اړتیاوې ځواب کړي. په دغه چاره کې د وګړیو د لازیاتې بې ځایه کېدنې څخه د مخنیوي په موخه له وچکالی څخه اغېزمنو کسانو ته د ستراتیژیکې ځواب‌وینې همکاری هم تطبیقیدی شي. |
| روغتیا | WHO<br>د روغتیا نړیوال سازمان | په کلسټر کې دننه د همغږی او همکاری د یوې برخې په توګه |
| تغذیه | یونسف | په کلسټر کې دننه د همغږی او همکاری د یوې برخې په توګه |
| محافظت | UNHCR<br>د کډوالو چارو په برخه کې د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمیشنری | د پاملرنې په مرکز کې د محافظت د ځای ورکولو، د ساتنې پیاوړتیا او د اسنادو له لاسه ورکولو اړوندو مسایلو پیاوړتیا، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي، ځمکنیو ماینونو، او د ماشومانو یا ښځو تر سرپرستی لاندې کورنیو، زړو کسانو او معلولینو په شمول ژیانمنوونکیو ګروپونو ته د پاملرنې په محراق کې د ځای ورکولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو له پاره د بېلابېلو مسایلو په اړه د افغانستان له ساتنې کلسټر سره د ګډ کار دوام او د زیانمنتیا شمېرو، بیا ځای پر ځای کېدو، اخراج او امنیت له لارې د غوراوي بنه والی.<br>سربېره پر دې، کلسټر د ملاتړ او تخنیکي لارښوونې موندولو په موخه له HLP کاري کمیټې سره د ځمکې د تصاحب، امنیت، کور، د ځمکې حقونو او د HLP ټولو مسایلو ته د مسیر ورکولو په شمول د سرپناه په برخه کې کار ته دوام ورکوي. |
| اوبه، حفظ الصحه او نظافت (واش) | یونسف | د غیر خوراکي اقلامو، اوبو، حفظ الصحې او نظافت د مرستو په اړه د لازیاتو آسانتیاوو په موخه د واش برخه کې ټول هغه فعالیتونه چې پخوا په دغه سکټور پورې اړوند وو ( لکه بوشکه او صابون) چمتو کوي. په ۲۰۱۸ کال کې له دې څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه چې د واش اړتیاوې د سرپناه مداخلو کې تر پوښښ لاندې نیول کېږي، لازیاتې همکارۍ ته اړتیا لري. د سرپناه کلسټر او د اوبو، حفظ الصحې او نظافت ( واش) کلسټرونو څخه استفاده او هغو ته به د افغانستان له شرایطوسره سم د دواړو کلسټرونو د ژمنو د تطبیق په موخه انتطاق ورکړل شي. |

| له اړوندو حکومتي بنسټونو سره همغږي | د کډوالو او راستنیدونکیو چارو وزارت<br>د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت<br>له پیښو سره د مبارزې د چمتووالي ملي اداره.<br>د ښار او کور جوړولو وزارت[i] | د کورنیو بېځایه شویو ، راستنو شویو، د کورنیو بې ځایه شویو وګړیو د حرکت ستراتیژیو د تطبیق او د ځمکې تخصیص بنې لپاره.<br>د بیړنی سرپناه او غیرخوراکي اقلامو په شمول د بیړنیو مرستو د همغږی لپاره.<br>د طبیعي پیښو د ځواب وینې اړوند بیړنی ځواب وینې لپاره.<br>د پایښت وړ کور اړوندو مسایلو لپاره. |
|---|---|---|

**د ځواب‌وینې پلان – د بودجې ټولګه، لومړی کال (۲۰۱۸)**

| د کلستر هدف (CO) | شاخص | اړ کسان | لومړنی شمېرې | هدف | د کورنیو شمېر | د هرې کورنۍ لپاره د ډالرو لګښت | ټولیز لګښت + ۳۰ سلنه Ops |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱CO | د هغو کسانو شمېر چې غیر خوراکي اقلام ترلاسه کوي. | ۱۳۸,۵۹۶ | | ۲۸۹,۴۵۳ | ۷۵۶,۶۴ | ۱۱۱ | ۴۹۱,۱۵۵,۷ |
| ۱CO | د هغو کسانو شمېر چې سرپناه ( بیړنۍ سرپناه) ترلاسه کوي. | ۵۰۴,۲۰۶ | | ۳۸۰,۱۶۳ | ۳۴۰,۲۳ | ۴۴۵ | ۳۰۰,۳۸۶,۱۰ |
| ۱CO | د هغو کسانو شمېر چې ورته د تسخین وسایل ( تودونکي وسایل) چمتو کېږي ( ژمنی مرستې) | ۴۱۰,۶۴۵ | | ۰۴۴,۲۸۹ | ۲۹۲,۴۱ | ۲۶۰ | ۹۲۰,۷۳۵,۱۰ |
| ۲CO | د هغو کسانو شمېر چې سرپناه ته یې پراختیا ورکول شوه | ۸۰۷,۲۰۸ | | ۲۹۰,۱۳۶ | ۴۷۰,۱۹ | ۳۹۰ | ۳۰۰,۵۹۳,۷ |
| ۲CO | د هغو کسانو شمېر چې د لندمهاله سرپناه جوړولو لپاره یې ملاتړ وشو ( مرسته ورسره وشوه) | ۸۵۳,۹۷ | | ۵۹۰,۴۴ | ۳۷۰,۶ | ۶۲۵,۱ | ۲۵۰,۳۵۱,۱۰ |
| د لومړی کال ټولګه | | | | | | | ۲۶۱,۲۲۲,۴۶ |

**کتور مأخذونه:**

1. د بیړنیو سریناوو او غیرخوراکي پروګرامونو له لارې د محافظت لهپاره چک لیسټ
2. د مناسبې (بنسټ) سرپناه پروګرام
3. چاپیریالي لارښود
4. په بیړنۍ څواب وینه کې د معلولیت لهپاره چک لیسټ

September ۲۰۱۷ (Multi-Cluster Needs Assessments of Informal Settlements by REACH) https://data.humdata.org/dataset/afghanistan-multi-cluster-needs-assessment-in-informal-settlements

September ۲۰۱۷ (Multi-Cluster Needs Assessments of Informal Settlements by REACH) https://data.humdata.org/dataset/afghanistan-multi-cluster-needs-assessment-in-informal-settlements

۲۰۱۶ – ۲۰۱۷ (IOM HAP of damage assessment updated with information from OCHA HNO) http://afghanresponse.iom.int/Dashboard/MSRAFDashboard.aspx

September ۲۰۱۷ (Multi-Cluster Needs Assessments of Informal Settlements by REACH) https://data.humdata.org/dataset/afghanistan-multi-cluster-needs-assessment-in-informal-settlements

September ۲۰۱۷ (Multi-Cluster Needs Assessments of Informal Settlements by REACH) https://data.humdata.org/dataset/afghanistan-multi-cluster-needs-assessment-in-informal-settlements

September ۲۰۱۷ (Multi-Cluster Needs Assessments of Informal Settlements by REACH) https://data.humdata.org/dataset/afghanistan-multi-cluster-needs-assessment-in-informal-settlements

January ۲۰۱۷ (NRC-ATR Consulting Report Humanitarian Assessment in Hard to Access Areas)

IOM DTM Baseline Mobility Assessment Report: https://drive.google.com/drive/folders/۰B_۳VYzW۳ndOTUkR۲SXpvdmNKaHc

https://www.sheltercluster.org/sites/default/files/docs/nrc_shelter_tenure_guidance_external.pdf

*Cash assistance is the preferred option for the affected families but has to be based on market analysis, impact on the host community, HLP due diligence including the "Do no Harm" Principle including monitoring and follow-up to ensure continuous support through coordination and linkages to existing longer term programmes. Large tents distribution should consider close coordination with WASH partners to mitigate further health risks associated with the lack of WASH services including hygiene promotion. HLP due diligence*

*Ministry of Refugees and Repatriations (MoRR) for IDP and returnee information, Afghanistan National Disaster Management Authority (ANDMA) for natural disaster response and Ministry of Rural Rehabilitation and Development (MRRD) for emergency response to conflict and other situations, the Ministry of Urban Development and Housing (MUDH) to ensure a link between the shorter-term humanitarian response and longer-term housing solutions*